رښتيا وايئ؛ ځکه رښتيا ويل نېکيو ته لارښونه کوي او يقينا چې نېکي جنت ته لارښونه کوي،

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «رښتيا وايئ؛ ځکه رښتيا ويل نېکيو ته لارښونه کوي او يقينا چې نېکي جنت ته لارښونه کوي، او او يو سړی همېشه رښتيا وايي او د رښتياوو پسې ګرځي تر دې چې د الله پر وړاندې ريښتينی وليکل شي، او له درواغو ځان وساتئ، ځکه چې درواغ مو په ګناهونو کې ډوبېدو ته بلي او په ګناهونو کې ډوبېدل انسان دوزخ ته رسوي او يو سړی همېشه درواغ وايي او د درواغو پسې ګرځي تر دې چې د الله تعالى پر وړاندې درواغجن وليکل شي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په رښتيا ويلو امر کړی او ويلي يې دي چې په دوامداره توګه پرې عمل کول د تلپاتې نيک عمل سبب ګرځي، او په نيک عمل ټينګار کول يې خاوند جنت ته رسوي، او تر هغه پورې په دوامداره توګه په پټه او ښکاره رښتيا وايي چې د رښتوني د لقب مستحق وګرځي؛ کوم چې په رښتيا ويلو کې په مبالغه دلالت کوي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د درواغو او باطلې وينا په اړه خبرداری ورکړ؛ ځکه چې دا خلک له استقامت څخه اوړېدو، بديو، فساد او ګناهونو کولو ته اړباسي او بيا يې دوزخ ته رسوي، او تر هغه پورې همداسې ډېر درواغ وايي چې د الله جل جلاله په وړاندې درواغجن وليکل شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5504